
د امیرِ اهلِسُنَّت لیکونه: ۳

# اربعینِ عطّار

د امیرِ اهلِسُنَّت په قلم لیکلے شوي
۴۰ مبارک حدیثونه



اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په دې رساله کښې د امیر اهلِسُنَّت تقریباً
د ۳٤ کالو زوړ لیک هم شامل دے

پیشکش: المدینةُ العلمیة (دعوتِ اسلامي)
Islamic Research Center
ترجمه: ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامي)

# وړومبے دا اولولئ

**د آخري نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: کوم کَس چې زما اُمَّت ته د رسولو د پاره د دِين په باره کښې 40 حديثونه ياد کړي نو هغه به الله پاک د قيامت په ورځ د عالِمِ دِين په حيثيت راپاځوي او د قيامت په ورځ به زه د هغه شفيع او ګواه يم. (شعب الايمان، 270/2، حديث: 1726) د دې نه مراد 40 حديثونه خلقو ته رسول دي اګرچه هغه ياد نه وي. (اشعة اللمعات، 186/1)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حديثِ پاک کښې بيان کړے شوے فضيلت به هغوئي ته هم حاصليږي څوک چې د چاپ کولو سره يا د کتلو سره يا د بيانولو يا په څه ذريعه هم خلقو ته 40 حديثونه اورسوي ځکه د دې فضيلت موندلو په نِيَّت سره 40 فرامينِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم د "**اربعينِ عطّار**" وړاندې کولے شي:

د دعوتِ اسلامي د باني، شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په لاس ليکلے شوي څلويښت (40) حديثونه مبارک د مختلفو ځايونو نه جمع کړے شوي دي. د هغوئي د ليکلو انداز ډير ښکلے دے چې هغوئي د خپل ليک شروع د لفظ "**الله**" نه کوي، د دې نه پس حديثِ شريف سره د شين شين ګنبد شريف ياد تازه کوونکے لاس ليک(دستخط).

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د امير اهلسنت د ليکلے شوو حديثونو مبارکو په شروع کښې د حديثونو عربي هم شامله کړے شوے ده د پاره د دې چې په يادو يادوونکو ته آساني وي ډير ځله په حديثونو مبارکو باندې د پوهيدو د پاره د حديث د شرح ضرورت پيښيږي، د خپل وس مطابق د کوشش کولو سره د اکثرو حديثونو مبارکو د شرحو اضافه هم شوې ده. مَاشَآءَ اللّٰهُ الکريم! په صفحه نمبر 30 او 34 باندې موجود حديثونه مبارک امير اهلسنت 30 کاله او په صفحه 31 باندې حديثِ پاک 34 کاله وړاندې په خپلو لاسونو باندې ليکلي دي.

الله کريم دې دا کوشش قبول کړي او چا چې د دې رسالے په جوړولو کښې مرسته اوکړه هغوئي د حديث د فيضان نه مالا مال کړې.

طالبِ غمِ مدينه وبقيع و مغفرت
**ابو محمد طاهر عطاري مدني** عفي عنه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# وړومبے دا اولولئ

دُعائے عطّار: يا رَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله " اَربعينِ عطّار " اولولي که واوري، هغه د حديثونو د برکتونو نه مال مال کړې او د مور پلار او خاندان سره ئې بے حسابه اوبخښي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د 80 کالو ګناهونه معاف

اَلصَّلَاةُ عَلَيَّ نُورٌ عَلَى الصِّرَاطِ وَمَنْ صَلَّى عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ثَمَانِيْنَ مَرَّةً غُفِرَ لَهُ ذُنُوبُ ثَمَانِيْنَ عَامًا

(مسند الفردوس،2/408،حديث:3814)

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: په ما باندې دُرُود لوستل د پل صراط نُور دے، څوک چې د جُمعے په ورځ 80 ځله دُرُودِ پاک اولولي د هغه به د 80 کالو ګناهونه معاف شي.

**د حديث شريف شرح:** په نبئ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُودِ پاک لوستلو ثواب به په پل صراط باندې داسې نُور وي کوم چې به په دې باندې د تلونکي د پاره پرقيږي او روښانه کيږي. دلته د ګناهونو د معافئ نه مُراد د وړو ګناهونو معافي ده.

(السراج المنير شرح الجامع الصغير، 3/283)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ټولو نه ډير خوږ

لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُونَ عِنْدَهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ نَفْسِه

(مسند امام احمد، 303/6، حديث: 18069)

فرمانِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: په تاسو کښې څوک هم تر هغه وخته پورې کامل مومن نشي کيدے تر څو چې زه هغه ته د هغه د ځان نه زيات محبوب (يعنې خوږ) نه شم.

**د حديث شريف شرح:** د الله پاک د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه زيات محبوب (يعنې خوږ) ساتلو مطلب دا دے چې دِينِ اسلام اومنلے شي، د هغوئي د سنتو پيروي اوکړے شي، د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظيم اوکړے شي او هر څيز يعنې په خپل ذات، خپل اولاد او مور پلار، خپلو خپلوانو او په خپل مال او اسباب باندې د رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا او خوشحالي مُقَدَّم [وړومبے] اوساتي. (اشعة اللمعات، 50/1 ملخصاً)

## ښه خبره کوئ يا خاموشه پاتې کيږئ

**مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْ لِيَصْمُتْ** (بخاری، 105/4، حديث 6018)

د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په الله او د قيامت په ورځ چې څوک ايمان لري هغه له پکار دي چې ښه خبره کوي يا خاموشه [يعني چُپ] پاتې کيږي.

**د حديث شريف شرح:** د حديث شريف مطلب دا دے کله چې څوک څه خبره کول غواړي نو غور دې اوکړي چې هغه خبره د ثواب ده يا نه؟ که د ثواب وي نو خبره دې اوکړي. که د ثواب نه وي نو خبره دې نه کوي. که هغه خبره نه د ثواب وي او نه د ګناه بلکه مباح وي نو د دې نه دې هم ځکه بچ شي چې چرته د مباح خبرو عادت ئې د ناجائزه او حرام وئيلو تر حده پورې اونه رسوي. امام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: که چرې

ځوک خبره کول غواړي نو (د وئيلو نه مخکښې دې) سوچ اوکړي، که په هغه باندې واضحه شوه چې وئيل هغه ته نقصان خو نه رسوي نو اودې کړي او که د وئيلو نقصان په هغه باندې واضحه شو يا د هغې (خبرې په نقصان رسولو) کښې شک وي نو نه دې ئې کوي. (شرح مسلم للنووی، 19/2)

## د جنتيانو وړومبے خوراک

وَاَمَّا اَوَّلُ طَعَامٍ يَاْكُلُهٗ اَهْلُ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ الْحُوْتِ (بخاری، 605/2، حدیث: 3938)

د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: وړومبے هغه خوراک کوم چې به جنتيان کوي هغه د مهيانو [کبانو] د اينې غاړه دے.

**د حديث شريف شرح**: د مهې د اينې دا حصه د ټولو نه ډيره خوږه وي. د دې مهې په باره کښې دا هم وئيلے کيږي چې دا هغه مهے دے په کوم چې زمکه ولاړه ده.

(مرقاۃ المفاتیح، 189/10، حدیث: 5870)

## ښه کوه چې ښه درسره کيږي

مَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "ځوک چې د يو مسلمان نه تکليف لرې کړي الله پاک به د قيامت په ورځ د هغه د تکليفونو نه د هغه تکليف لرې کړي." (بخاری، 126/2، حدیث: 2442)

**د حديث شريف شرح**: سُبْحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلې وعده ده، د مسلمان ورور

تۀ مدد اوکړه الله پاك به ستا مدد اوکړي، د مسلمان حاجت تۀ پوره کړه الله پاك به ستا حاجت (ضرورت) پوره کړي. معلومه شوه چې بنده د بنده حاجت پوره کولے شي، دا شرک نه دے، بنده د بنده حاجت رَوا مُشکل کُشا دے. (مراٰۃالمناجیح،551/6) د تکلیف لرې کولو سره په خلقو باندې راتلونکي ازمیښتونه لرې کول یا د هغې کمول مراد دے. د چا غریب مالي مدد، د مریض د پاره دوائي او د ډاکټر انتظام [کول]، په چا باندې د کیدونکي ظلم د لرې کولو کوشش ټول په دې کښې شامل دي.

## د کامِل ایمان نښه

لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی یُحِبَّ لِاَخِیْهِ مَا یُحِبُّ لِنَفْسِهٖ (بخاری،16/1،حدیث:13)

د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "په تاسو کښې څوک مومن نشي کیدے تر دې چې د خپل ورور د پاره هم هغه خوښ نه کړي کوم چې د خپل ځان د پاره خوښوي."

**د حدیث شریف شرح:** په دې حدیث کښې د ایمان نه کامل ایمان مُراد دے، په دې (خبره) کښې (دا) لازمي دي چې (بنده) چې د ځان د پاره څه نه خوښوي هغه د نورو د پاره هم نه خوښوي. یعنې انسان دا غواړي چې مونږ په آرام، اعزاز سره خوشحاله اوسو، څوک مونږه ذلیله نه کړي څوک مونږ ته ضرر را اونه رسوي، دغه شان دا هم پکار دي چې زما ورور د اعزاز سره خوشحاله اوسي، نه د هغه سپکاوے اوشي نه د هغه حق اوخوړلے شي. هر کَس که دا عادت واخلي نو معاشره به صفا ستهرا وي او ژوند به په

سکون او اطمينان سره تيريږي. ظاهره ده چې د جنګ جګړې بنياد هم دا وي چې انسان په زړه تنګئ سره دا غواړي چې هر څه دې زما وي، د نورو سره دې نه وي. په دې حديثِ پاك کښې د تواضع، مَرَوَّت، د يو بَل سره امداد ، د يو بَل پښکار راتللو او د نورو سره د ښه سلوک کولو بليغ ترين ترغيب دے. (نزهَةالقارى، 314/1)

## کامل مسلمان

اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ (بخارى،16/1،حديث: 11)

د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مسلمان هغه دے د کوم د ژبې او لاس نه چې بَل مسلمان محفوظ پاتې شي.

**د حديث شريف شرح:** کامل مسلمان هغه دے کوم چې لُغَةً شرعاً په هر قِسَم مسلمان وي (او) مومن هغه دے کوم چې د چا مسلمان غيبت نه کوي، کنزلې، پيغور، چغلي وغيره نه کوي، څوک وهي ټکوي نه، نۀ د هغه خلاف څه ليکي. دا حديث د اخلاقو جامع دے. (مرأةالمناجيح، 29/1)

## د اور ځادر

إِنَّ الشَّمْلَةَ لَتَلْتَهِبُ عَلَيْهِ نَارًا أَخَذَهَا مِنَ الْغَنَائِمِ يَوْمَ خَيْبَرَ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ، قَالَ: فَفَزِعَ النَّاسُ، فَجَاءَ رَجُلٌ بِشِرَاكٍ أَوْ شِرَاكَيْنِ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، أَصَبْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: شِرَاكٌ مِنْ نَارٍ أَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ (مسلم، ص69، حديث:310ملتقطاً)

د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: (د غزوهٔ خيبر په غنيمت کښې) يو ځادر کوم چې غلام د خيانت په طور پټ کړے وو هغه (د مرګ نه پس) په هغه باندې

د اور جوړیدو سره بلیږي. دا ئې چې واوریدل نو یو کَس راپاڅیدو او یوه تَسمه یا ئې دوه تسمے راوړے کومه چې هغه د مالِ غنیمت د تقسیمولو نه مخکښې اخستې وه (د دې د لیدلو سره) نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دا د اور یوه تسمه ده یا دوه تسمے دي.

## د سحر او د ماسخُتن لمُونځ د جَمعے سره د کولو ثواب

مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَاَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَاَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهٗ (مسلم، ص258، حديث: 1491)

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې د ماسخُتن لمُونځ د جَمعے سره اوکړو هغه نیمه شپه قیام اوکړو او چا چې د سحر لمُونځ د جَمعے سره اوکړو لکه چې هغه ټوله شپه قیام اوکړو. (یعنې ټوله شپه ئې عبادت اوکړو)

**د حدیث شریف شرح**: (1) یو دا چې د ماسخُتن لمُونځ د جَمعے سره د کولو ثواب د نیمې شپې د عبادت برابر دے او د جَمعے سره د سحر د لمُونځ ثواب د باقي پاتې نیمې شپې د عبادت برابر، نو څوک چې دا دواړه لمُونځونه د جمعے سره ادا کړي د هغه د پاره د ټولې شپې د عبادت ثواب. (2) د ماسخُتن لمُونځ د جَمعے سره د ادا کولو ثواب د نیمې شپې برابر دے او د سحر لمُونځ د جمعے سره ثواب د ټولې شپې د عبادت برابر، ځکه چې دا (یعنې د سحر) جَمعه د ماسخُتن د جَمعے نه ډیره درنه (یعنې په نفس باندې بوج) ده. وړومبئ معنٰی ډیره قوي (یعنې ډیره مضبوطه) ده. د جَمعے نه مُراد **تکبیرِ اولٰی** موندل دی لکه څنګه چې بعضې علماؤ اوفرمائیل. (مراٰة المناجيح، 396/1)

## د نیکئ د لارې ښودلو ثواب

مَنْ دَلَّ عَلٰی خَیْرٍ، فَلَهٗ مِثْلُ اَجْرِ فَاعِلِهٖ (مسلم، ص809، حدیث:4899)

د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”کوم کَس چې د نیکئ لار اوښائي، نو هغه ته به هم هغه همره ثواب میلاویږي خومره چې هغه نیکئ کولو والا ته“ [میلاویږي].

نیکئ کولو والا، په بَل باندې کولو والا، ښودلو والا، مشورے کولو والا ټول د ثواب حقدار دي. (مرآۃالمناجیح،194/1)

## نرم زړه

مَنْ یُحْرَمِ الرِّفْقَ، یُحْرَمِ الْخَیْرَ (مسلم، ص1072، حدیث:6598)

د خوږ آقا مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د نرمئ نه محرومه پاتې شو، هغه د هر خیر نه محرومه پاتې شو.

**د حدیث شریف شرح:** په چا باندې چې رَبّ مهربانه وي هغه نرم زړه والا جوړ کړي، په چا باندې چې د رَبّ قهر وي هغه سخت زړه والا کړي، په سخت زړه باندې د چا وعظ (یعني بیان) اثر نه کوي. (مرآۃالمناجیح،636/6)

## شک والا څیزونه پریږدئ

دَعْ مَا یُرِیْبُكَ اِلٰی مَا لَا یُرِیْبُكَ (ترمذی، 232/4، حدیث:2526)

د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم څیز چې تا په شک کښې

اچوي هغه پرېږده او په کوم کښې چې شک نه وي هغه اختيار کړه.

**د حديث شريف شرح:** د کوم څيز چې په ښه يا بد او حلال يا حرام کيدو کښې شک وي نو د هغې د پرېښودو سره هغه څيز اختيار کړه په کوم کښې چې شک نه وي او د هغې ښه او حلال کيدل يقيني وي. (فيض القدير، 706/3)

د دې حديث مقصد دا دے چې بنده دې د خپل کار بنياد په يقين اوساتي.
(مرقاة المفاتيح، 24/6 مفهوماً)

## د صدقے برکتونه

إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيْتَةَ السُّوْءِ (ترمذی، 146/2، حديث: 664)

د مصطفٰی جانِ رحمَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "بيشکه صدقه د رَبّ غضب وژني او بد مرګ دفع کوي."

**د حديث شريف شرح:** په سخي باندې اول خو دُنياوي مصيبتونه راځي نه، که د امتحان په طور باندې راشي نو د الله له طرفه هغه ته د زړه سکون نصيب کيږي د کوم سره چې هغه د صبر کولو سره ثواب ګټي غرض چې د هغه د پاره مصيبت د ګناه کولو سره نه راځي [بلکه] مغفرت راوړي، ګناه والا مصيبت د خدائے غضب دے او مغفرت والا مصيبت د هغه رحمت. (مرأة المناجيح، 103/3)

## دعا غواړئ

مَنْ سَرَّهٗ اَنْ يَسْتَجِيْبَ اللّٰهُ لَهٗ عِنْدَ الشَّدَائِدِ وَالْكُرَبِ فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ

(ترمذی، 248/5، حديث: 3393)

د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: "څوک چې غواړي چې د مصيبتونو په وخت الله پاک د هغه دُعا قبوله کړي نو هغه دې د راستئ [يعني آرام او خوشحالئ] په زمانه کښې ډيرې دُعاګانے کوي."

**د حديث شريف شرح:** د دې وجه ظاهره ده چې صرف په مصيبت کښې دُعا غوښتل او په راحت کښې د رَبّ نه غافله کيدل خود غرضي ده او هر وخت دُعا غوښتل عبديت دے د رَبّ خود غرضي ناخوښه ده عَبديَّت ئې خوښ (دے). (مرأۃالمناجیح، 297/3)

## شرمول مه کوئ

مَنْ عَيَّرَ اَخَاهُ بِذَنْبٍ لَمْ يَمُتْ حَتّٰى يَعْمَلَهُ[1] (ترمذی، 226/4، حدیث:2513)

د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عالي شان دے: چا چې خپل ورور په (داسې) ګناه باندې اوشرمولو (د کومې نه چې هغه توبه کړې وي) نو د مرګ نه مخکښې به هغه پخپله په هغه ګناه کښې اخته شي.

**د حديث شريف شرح:** د ګناه نه هغه ګناه مراد ده د کومې نه چې هغه توبه کړې وي يا هغه مخکښينئ ګناه کومه چې خلقو هيره کړې وي يا پټه ګناه د کومې نه چې خلق خبر نه وي او شرمول د توبه کولو د پاره نه صرف د غصے وروستلو او د غضب د جوش له وجې وي دې قيودو ته پام کوئ نور دا چې داسې کَس به د خپل مرګ نه مخکښې دا ګناه پخپله کوي او په دې به بدناميږي، د مظلوم بدله د ظالم نه پخپله الله

[1] ... قَالَ اَحْمَدُ (قَالُوْا) مِنْ ذَنْبٍ قَدْ تَابَ مِنْهُ

تعالٰی اخلي. (مرأۃالمناجیح،473/6)

## د جنتي ځوانانو سرداران

اَلْحَسَنُ وَالْحُسَیْنُ سَیِّدَا شَبَابِ اَهْلِ الْجَنَّةِ (ترمذی، 426/5، حدیث3793)

د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”حسن او حسین د جنتي ځوانانو سرداران دي.“

**د حدیث شریف شرح:** یعني کوم خلق چې په ځوانئ کښې وفات شي او جنتیان وي، حضرت حسنینِ کریمین (رَضِیَ اللهُ عَنْهُما) د هغوئي سرداران دي ګني نو په جنت کښې خو به ټول ځلمي وي. (مِرأۃالمناجیح، 475/8)

## د آخري نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ملګري

أَنْتَ صَاحِبِیْ عَلَی الْحَوْضِ وَصَاحِبِیْ فِی الْغَارِ (ترمذی، 378/5، حدیث: 3690)

د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: (اے ابوبکر!) ته زما د حوضِ کوثر او د غار ملګرے ئې.

**د حدیث شریف شرح:** یعني په دنیا او آخرت کښې زما ملګرے ئې. (صدیقِ اکبر) په حوضِ کوثر باندې به زمونږ سره ملګرے وي. (مطلع القمرین، ص180)

په غار کښې د نبـي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ملګري کېدل داسې خصوصي شان دے په کوم کښې چې هیڅ څوک د هغوئي شریک نشته. (لمعات التنقیح، 600/9، تحت الحدیث: 6028)

## د عزت جامې

مَا مِنْ مُؤْمِنٍ يُعَزِّىْ اَخَاهُ بِمُصِيْبَةٍ اِلَّا كَسَاهُ اللهُ مِنْ حُلَلِ الْكَرَامَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم مسلمان چې د خپل مسلمان وروور سره په مصيبت کښې غمرازي [لاس نيوه] اوکړي، الله پاک به د قيامت په ورځ هغه ته د عزت جامې واغوندي. (ابنِ ماجه، 268/2، حديث:1601)

**د حديث شريف شرح**: تعزيت [يعني غمرازي، لاس نيوه] کول سنت مؤکده ده او لاس نيوه صرف د مړي سره خاص نه ده. په مړي باندې لاس نيوه کول مستحب عمل دے که هغه د دفن کولو نه مخکښې وي او که وروستو.

(التيسير بشرح الجامع الصغير 366/2، فيض القدير، 632/5، تحت الحديث:8092)

## په تلاوت کښې ژړل ثواب دے

فَإِذَا قَرَأْتُمُوهُ فَابْكُوْا، فَإِنْ لَمْ تَبْكُوْا فَتَبَاكَوْا (ابن ماجه، 129/2، حديث:1337)

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د قرآنِ پاک د تلاوت کولو سره ژاړئ او که ژړلے نشئ نو دا ژړا په شان شکل جوړ کړئ.

**د حديث شريف شرح**:د غم په حالت کښې داسې قراءَت کول چې د سترګو نه اوښکې لاړې شي، دې سره به قراءَت کوونکي له خوند ورکوي د کومې په ذريعه چې به هغه الله پاک ته نزدې کيږي. (حاشيه سندى على سنن ابن ماجه، 402/1)

**امام غزالي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي**: د قرآنِ کريم لوستلو په وخت د ژړا طريقه دا ده چې په قرآن کښې راتلونکي تنبيهات (يعني نصيحتونه)، وعيدونه او وعدې لوظونه دې يادوي،

بيا چې د کومو خبرو حکم دے او د کومو خبرو نه چې منع شوې ده په هغې کښې دې په خپلو کوتاهيانو باندې غور او فکر کوي نو يقيناً هغه به غمژن کيږي او ژاړي به. که په دې باندې د غم او ژړيدو حالت رانشي لکه څنګه چې د صفا زړه لرونکو وي نو هغه ته په نه ژړيدو او نه غمژن کيدو ژړل پکار دي ځکه چې دا د ټولو نه غټ مصيبت دے. (احياء العلوم، 1/836، 837 بتصرف)

## مُراد به ئې پوره شي

مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ (ابن ماجه، 3/490، حديث: 3062)

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "زم زم چې د کوم مُراد د پاره اوڅښلے شي د هغې د پاره دي."

**د حديث شريف شرح**: ځکه چې زم زم د ټولو اوبو سردارې دي او په ټولو اوبو کښې غوره او د مرتبے په لحاظ سره اعلٰى دي او د زړونو خوښې دي. ځکه چې الله پاک د خپل خليل (يعني حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام) ځوي (يعني حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام) د څښولو او د ضرورت پوره کولو د پاره را اوليږلې نو د دې حاجت پوره کيدل د هغوئې نه پس والؤ د پاره باقې پاتې شو نو څوک ئې چې په اخلاص سره اوڅښي نو خپل ضرورت به بيامومي. ډيرو علمائے کرامو د خپلو مقصدونو حاصلولو د پاره دا اوڅښلې نو هغوئې خپل مرادونه حاصل کړل. (فيض القدير شرح جامع الصغير، 7/273)

## بوټے نالول وَنه جوړول دي

مَنْ بَنٰی بُنْیَانًا مِنْ غَیْرِ ظُلْمٍ وَلَا اعْتِدَاءٍ اَوْ غَرَسَ غَرْسًا فِیْ غَیْرِ ظُلْمٍ وَلَا اعْتِدَاءٍ کَانَ لَهُ أَجْرٌ جَارٍ مَا انْتُفِعَ بِهٖ مِنْ خَلْقِ اللّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی (مسند امام احمد، 309/5، حدیث: 15616)

د مصطفٰــی جانِ رحمَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "چا چې د څه ظلم او زياتي نه بغير کور جوړ کړو يا ئې د ظلم او زياتي نه بغير څه بوټے نال کړو، تر څو چې د الله پاک په مخلوق کښې څوک يو هم د دې نه ګټه حاصلوي نو د هغه (نالوونکي يا غټوونکي) به ثواب کيږي."

**د حديث شريف شرح**: معلومه شوه داسې کار کول د کومې نه چې د الله مخلوق ته فائده اورسي جائز دے ولې چې په دې کښې د ظلم او زياتي څه شکل نه وي.

(شرح مشكل الآثار، 416/2، حديث: 957)

## د پينځـؤ نه مخکښې پينځه

اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاءَكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ. (مستدرک 435/5، حدیث: 7916)

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د پينځـؤ نه مخکښې پينځه غنيمت اوګڼه (1) ځواني د بوډا والي نه مخکښې او (2) صحت د بيمارئ نه مخکښې او (3) مالداري د غريبئ نه مخکښې او (4) وَزګاري د مشغولتيا نه مخکښې او (5) ژوند د مرګ نه مخکښې.

**د حديث شريف شرح**: هوښيار ګس په ماښام کيدو د سحر انتظار نه کوي او په سحر

کيدو د ماښام انتظار نه کوي بلکه هغه ګڼي چې هسې داسې نه وي چې د دې نه مخکښې ما له مرګ راشي، ځکه هغه نيک اعمال کوي کوم چې به د هغه د مرګ نه پس پکار راځي، دغه شان هغه روغ صحت غنيمت ګڼي او په هغې کښې نيکئ کوي.

(ارشاد الساری، 486/13، تحت الحديث:6416)

## د عرب والؤ سره محبت

اَحِبُّوا الْعَرَبَ لِثَلَاثٍ لِاَنِّیْ عَرَبِیٌّ وَالْقُراٰنُ عَرَبِیٌّ وَلِسَانُ اَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيَّةٌ

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د دريو خبرو په وجه د عرب سره محبت کوئ چې زه عربي يم او قرآن عربي دے او د جنتيانو ژبه هم عربي ده.

(مستدرک، 117/5، حديث:7081)

**د حديث شريف شرح**: د عرب نه مراد د عرب مُومِنان دي. د عرب مُومِنان زمونږ د سر ګلونه دي چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډيان دي. په دې مرقات کښې اوفرمائيلے شو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عربي، قرآنِ مجيد عربي، د جنتيانو ژبه عربي، د قبر حساب په عربئ ژبه کښې دے، عربي ژبه په ټولو ژبو کښې زياته فراخه مختصر ده، د دې حديث نه معلوميږي چې د دوزخيانو به عربي ژبه نه وي، دا هم معلومه شوه چې قرآن هغه دے کوم چې په عربئ کښې دے، د دې ترجمے قرآن نه دے، نه د دې سره تلاوت په لمُونځ کښې صحيح دے، حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام چې کوم قرآن حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته واورولو هغه عربي وه. بعضې علماء فرمائي چې د

وفات کيدو نه پس به د ټولو ژبه عربي شي ځکه به د قبر او حشر ټول کاروبار په عربئ کښې وي، د جنتيانو ژبه به هم عربي پاتې وي. (مِراٰۃالمناجیح، 333/8)

## بدن په اور باندې حرام دے

مَنْ صَلَّى اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ قَبْلَ الْعَصْرِ حَرَّمَ اللّٰهُ بَدَنَهٗ عَلَى النَّارِ (معجم کبیر، 281/23، حدیث:611)

د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د مازيګر د لمَانځه نه مخکښې څلور رکعتونه (يعنې د مازيګر سنت) اوکړي، الله پاک به د هغه بدن په اور باندې حرام کړي.

په نورو دوو حديثونو کښې د دې څلورو رکعته کوونکي د پاره نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت دُعا او د هغه بدن په اور باندې د حراميدو بيان فرمائيلے دے.

(الفتح الربانی، 204/4)

## په سر کښې د اوسپنې ميخونه

لَاَنْ يُّطْعَنَ فِىْ رَأْسِ اَحَدِكُمْ بِمِخْيَطٍ مِنْ حَدِيْدٍ خَيْرٌ لَهٗ مِنْ اَنْ يَّمَسَّ اِمْرَاَةً لَا تَحِلُّ لَهٗ

(معجم کبیر، 211/20، حدیث:486)

د نبـي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په تاسو کښې چې د چا په سر کښې د اوسپنې ميخ ټکوهلے شي دا د هغه د پاره د دې نه بهتر دي چې هغه داسې زنانه له لاس ور وړي کومه چې د هغه د پاره حلاله نه ده.

**د حديث شريف شرح:** په حديث شريف کښې د اوسپنې ميخ يا ستَن وغيره ځکه

خاص کړے شوې ده چې دا د نورو تکليف رسوونکو څيزونو په مقابله کښې ډير تکليف رسوونکي دي. نا محرمه (يعنې پردئ) زنانه له د لاس ور وړلو چې دا عذاب دے نو بيا به هغه ګس په کوم حالت کښې وي کوم چې د دې نه هغه غټه ګناه کوي لکه چې د يوے زنانه سره بدکاري کول وغيره. (التيسير بشرح الجامع الصغير، 208/2)

## د ټولو نه افضل عمل

اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَى اللهِ بَعْدَ الفَرَائِضِ اِدْخَالُ السُّرُوْرِ عَلَى الْمُسْلِمِ

(معجم کبير، 59/11، حديث:11079)

د نبئ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د الله پاک په نزد د فرائضو ادا کولو نه پس د ټولو نه افضل عمل د مسلمان زړه له خوشحالي ورکول دي.

## تور مخونه

اَلْمُصِيْبَةُ تُبَيِّضُ وَجْهَ صَاحِبِهَا يَوْمَ تَسْوَدُّ الْوُجُوْهُ (معجم اوسط، 290/3، حديث:4622)

د سردارِ دوجهان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مصيبت به د خپل صاحب (يعنې مصيبت کښې د اخته) مخ په هغه ورځ پړقوي په کومه ورځ چې به مخونه تور وي.

**د حديث شريف شرح:** يعنې د قيامت په ورځ به په مصيبت کښې د اخته ګس مخ سپين او روښانه وي او په هغه ورځ به د باطِلو خلقو مخونه تور وي او تياري به هغوئي د هر اړخ نه راګير کړي وي. (فيض القدير، 354/6، تحت الحديث:9218)

## د مور پلار قبر ته حاضري

مَنْ زَارَ قَبْرَ أَبَوَيْهِ اَوْ اِحْدَاهُمَا فِیْ كُلِّ جُمُعَةٍ غُفِرَ لَهُ وَكُتِبَ بَرًّا

د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "څوک چې د خپل مور پلار دواړو یا د یو د قبر د هرې جُمعے په ورځ زیارت کوي، د هغه به مغفرت اوشي او هغه به نیک لیکلے شي." (شعب الایمان، 201/6، حدیث: 7901)

**د حدیث شریف شرح:** دلته د جُمعے نه مراد د جُمعے ورځ ده یا پوره هفته، بهتره ده چې د هرې جُمعے په ورځ د مور پلار د قبر زیارت کوي، که هلته زیارت ته حاضریدے نشي نو هره جُمعه دې د هغوئي د پاره ایصالِ ثواب کوي. (مرأة المناجیح، 526/2)

## اوده کیدل عبادت

نَوْمُ الصَّائِمِ عِبَادَةٌ، وَسُكُوْتُهُ تَسْبِيْحٌ، وَدُعَاؤُهُ مُسْتَجَابٌ، وَعَمَلُهُ مُتَقَبَّلٌ

(شعب الایمان، 415/3، حدیث: 3938)

د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د روژه دار اوده کیدل عبادت او د هغه خاموشي تسبیح کول او د هغه دُعا قبوله او د هغه عمل مقبول وي.

**د حدیث شریف شرح:** د روژه نیوونکي اوده کیدل عبادت دے که د هغه روژه نفلي وي او که فرضي. د روژه نیوونکي خاموشي د تسبیح په شان ده، د هغه دُعا او عمل قبول دے. دا فضیلت د هغه روژه نیوونکي د پاره دے کوم چې خپله روژه په غیبت وغیره ګناهونو خرابه نه کړي. (التیسیر بشرح الجامع الصغیر، 462/2)

## په جُمات کښې د دنیا خبرې

يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَكُوْنُ حَدِيْثُهُمْ فِيْ مَسَاجِدِهِمْ فِيْ اَمْرِ دُنْيَاهُمْ، فَلَا تُجَالِسُوْهُمْ، فَلَيْسَ لِلّٰهِ فِيْهِمْ حَاجَةٌ (شعب الايمان، 86/3، حديث:2962)

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په خلقو باندې به يوه زمانه داسې راشي چې په جُماتونو کښې به د دُنيا خبرې وي، تاسو د هغوئي سره مه کښينئ چې د الله پاک داسې خلقو ته هيڅ حاجت نشته.

**د حديث شريف شرح:** يعني الله پاک په هغوئي باندې کرم نه کوي، ګني نو د رَبّ خو يو بنده ته هم ضرورت نشته، هغه د ضرورتونو نه پاک دے. (مرأة المناجيح، 457/1)

## اصلي مُجاَہَده

اَلْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهٗ (شعب الايمان، 499/7، حديث: 11123 ملتقطاً)

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: **مجاهِد** هغه دے کوم چې

د خپل نفس سره جهاد اوکړي.

**د حديث شريف شرح:** يعني د نفسِ اماره سره چې د ګناه حکم کوي. انسان له پکار دي چې د نفسِ اَمَّاره د الله پاک د رضا، د نيکئ د کارونو او ګناهونو نه د بچ کيدو په لور راغب کړي او هم دا اصلي **مجاهده** ده. (التيسير بشرح الجامع الصغير، 454/2)

## تر ټول کال پورې حلال رزق

مَنْ جَاعَ اَوِ احْتَاجَ فَكَتَمَهُ النَّاسَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ عَزَّوَجَلَّ اَنْ يَرْزُقَهٗ رِزْقَ سَنَةٍ مِنْ حَلَالٍ

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "وږے او حاجت مند که خپل

حاجت د خلقو نه پټ کړي. الله پاک به ټول کال هغه ته حلال رزق عطا کړي.“
(شعب الایمان، 215/7، حدیث: 10054)

**د حدیث شریف شرح:** دلته د لوږې نه مراد د زغملو قابله لوږه ده د کومې نه چې مرګ نه وي، د دې پټول او پخپله د ګټلو سره په مړه خیټه خوړل بهتر دي، خو که د لوږې نه مرګ ته نزدې کیږي نو د دې ظاهرول د چا نه د څه اخستلو سره د ضرورت مطابق خوړل فرض دي، که پټوي ئې او مړ شي نو په حرام مرګ به مري. (مرآة المناجیح، 84/7)

## جنت ته لاړ شه!

اُعْبُدُوا الرَّحْمٰنَ، وَاَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَاَفْشُوا السَّلَامَ، تَدْخُلُوا الْجِنَانَ.“

د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”د رحمٰن عبادت کوه، په نورو ډوډئ خوره، سلام خپروه، جنت ته لاړ شه“. (الأدب المفرد، حدیث: 981، ص255)

**د حدیث شریف شرح:** د سلام خپرولو مطلب دا دے چې د سلام رواج عام کړه، د اسلام نه مخکښې به د ملاقات په وخت د سلام رواج نه وو اسلام ”السلام علیکم“ وئیل اوښودل. په نورو ډوډئ خوړلو نه مراد دے میلمنو، فقیرانو، یتیمانانو له ډوډئ ورکوه. بعضې خلقو اووئیل چې سلام په تیز آواز وایه کوم چې مخامخ کَس واوري او خپلو بچو له ډوډئ ورکوه خو مخکښینئ معنٰی ډیره قوي [یعنې مضبوطه] ده. که تا په دې خبرو باندې عمل اوکړو نو د عذاب او حجاب نه به سلامت پاتې شې او جَنَّت ته به په خیریت سره اورسې چرته چې به تا ته د الله تعالٰی او فرښتو د طرف نه سلام کیږي. (مراۃ المناجیح، 102/3)

## مَړ زړه

اَلضِحْکُ فِی الْمَسْجِدِ ظُلْمَةٌ فِی الْقَبْرِ (مسند الفردوس، 431/2، حديث: 3891)

د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په جُمات کښې خندل په قبر کښې تياره راولي.

**د حديث شريف شرح:** په جُمات کښې خندل زړه مړ کوي او د مرګ ياد هيروي او بيا په دې بنياد باندې په قبر کښې تيارې ته مخامخ کيدل وي، ځکه وئيلے شي چې د دُنيا والو خنديدل زړه مړ کوي او د الله والؤ مُسکې کيدل زړونه روښانه کوي.

(فيض القدير، 341/4، تحت الحديث: 5231)

## عمل نامه به ئې خوشحاله کړي

مَنْ اَحَبَّ اَنْ تَسُرَّهٗ صَحِيْفَتُهٗ فَلْيُكْثِرْ فِيْهَا مِنَ الاِسْتِغْفَارِ (مجمع الزوائد، 347/10، حديث: 17579)

د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "څوک چې دا خبره خوښوي چې د هغه عمل نامه هغه خوشحاله کړي نو هغه له پکار دي چې په دې کښې د استغفار زياتوالے اوکړي.

**د حديث شريف شرح:** يعنې څوک چې غواړي چې د قيامت په ورځ د هغه عمل نامه هغه خوشحاله کړي نو پکار دي چې هغه زيات استغفار اوکړي ځکه چې د قيامت په ورځ به د نُور د ځليدو سره راځي. (فيض القدير، 43/6)

مَنْ قَعَدَ اِلٰى قَيْنَةٍ يَسْتَمِعُ مِنْهَا صَبَّ اللّٰهُ فِىْ اُذُنَيْهِ الْآنُكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

(تاريخ ابنِ عساکر، 263/51، حديث: 10884)

د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې سندرې وئيونکې زنانه

سره کښيني، ښه په غور ئې واوري نو الله پاک به د قيامت په ورځ د هغه په غوږونو کښې ويلي شوې سيسه واچوي.

## د رخصتيدونکي په شان لمُونځ

إِذا صَلّٰی اَحَدُکُمْ فَلْيُصَلِّ صلاةَ مُوَدِّعٍ صَلَاةَ مَنْ لَا يَظُنُّ اَنَّهُ يَرْجِعُ اِلَيْهَا اَبَداً

(جامعِ صغير، ص50، حديث: 716)

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”کله چې په تاسو کښې څوک لمُونځ اوکړي نو د رخصتيدونکي ګس په شان دې د داسې ګمان کولو سره لمُونځ اوکړي چې بيا به کله هم لمُونځ اونکړے شي.“

**د حديث شريف شرح**: يعني کله چې په تاسو کښې څوک لمُونځ کوي نو پکار دي چې هغه د الله پاک په لور خپله پوره توجه اوساتي او د الله پاک نه علاوه دې ټول پريږدي بيا د آخري لمُونځ وضاحت حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې اوفرمائيلو چې دے دې دا ګمان اوکړي چې د دې لمُونځ نه پس به کله هم لمُونځ اونکړے شي بس چې کله دا څيز د هغه په ذهن کښې وي نو دے به د پام ګرځوونکو څيزونو سره د تعلق په پريښودو باندې او په هغه خُشوعِ باندې راپار کړي کوم چې **”د لمُونځ روح“** دے.

(التيسير بشرح جامع الصغير، 110/1)

## رينښتيني نيت

اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ (جامع صغير، ص557، حديث: 9326)

د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ښه نيت به بنده جنت ته داخل کړي.

په يو بَل حديثِ پاک کښې دي: رښتينے نيت په عرش باندې معلق اوسي، کله چې بنده رښتينے نيت اوکړي نو عرش په حرکت کښې شي او د هغه بنده مغفرت اوکړے شي. (التيسير بشرح الجامع الصغير، 464/2)

## مسواك کوئ

اِسْتَاكُوا اِسْتَاكُوا لَا تَأْتُوْنِيْ قُلْحًا (جمع الجوامع، 389/1، حديث:2875)

فرمانِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: مسواک کوئ! مسواک کوئ! زما خوا له د زيړو غاښونو سره مه راځئ.

## خصوصي شفاعت

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ كَانَتْ شَفَاعَةٌ لَهُ عِنْدِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

(جمع الجوامع، 199/7، حديث:22353)

د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عالي شان دے: څوک چې په ما باندې د جُمعے په ورځ دُرُود شريف اولولي زه به د قيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم.

**د حديث شريف شرح:** يعني څوک چې د جُمعے په ورځ دُرودِ پاک لولي د هغه د پاره به خصوصي شفاعت وي. د جُمعے په ورځ په دُرُود شريف لوستلو کښې يو مناسبت دا دے چې جُمعه د ورځو سرداره ده او نبـي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخلوق سردار دے نو په دې ورځ باندې د دُرُود شريف وئيلو زيات فضيلت دے کوم چې په نورو ورځو کښې نشته. (فيض القدير، 111/2، تحت الحديث: 1405)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# حدیثِ پاک

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: زما په
اُمّت کښې چې څوک ۴۰ حدیثونه حفظ کړي د کومو نه چې
اُمّت فائده واخلي الله پاک به د قیامت په ورځ هغه د
فقیه او عالِم په حالت کښې راپاڅوي.
دلته د حفظ نه مُراد ۴۰ حدیثونه د اُمّت د پاره نقل
او روایت کول دي اګرچه زباني یاد نه وي او د
هغې د معنې او مفهوم نه هم خبر نه وي
ځکه چې هم د نقل او روایت په ذریعه
به ترینه مسلمانان فائده اخلي.

(شرح الاربعين النووية لابن دقيق العيد ص: ۱۶)


فیضانِ مدینه، محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92  0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net